PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

د نړیوالو اړیکو په چارو کې د اروپایې ټولنې عالی استازي او د اروپایې کمیسیون مرستیال فدیریکي موګیرینې او د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین ربانی ګډه وینا

کابل- د 2015 کال د دسمبر 2

د نړیوالو اړیکو په چارو کې د اروپایې ټولنې عالی استازي او د اروپایې کمیسیون مرستیال فدیریکي موګیرینې او د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین ربانی ګډه وینا.

مونږ د ناټو د بهرنیو چارو د وزیرانو د غونډې په څنګ کې سره ولیدل ترڅو د افغانستان په اړه د "بروکسل" کنفرانس نیټه چې ټاکل شوې دې د 2016 کال د اکتوبر میاشت په 5-4 کې ترسره شي، نهایی کړو. دغه کنفرانس به افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې ژمنې او ګډون د ناټو په چوکاټ کې د امنیتي هڅو سره موازي یواړې بیا تازه کړي.

دغه کنفرانس به د افغانستان خلکو ته د هیلې، ډاډ او بدلون یو پیاوړي پیغام واستوي. د کلونو جګړې نه وروسته په دې شرط چې د افغانستان د خلکو هیلې ترسره شي زمونږ ژمنې د افغانستان ښه راتلونکي لپاره اړین دي. مونږ همدارنګه د هغو امنیتی ستونزو په اړه چې افغانستان ورسره مخامخ دي او د سولې او پخلاینې د تامین په موخه ګډې همکاریو باندې خبرې وکړی. د "آسیا د زړه" راتلونکې ناسته په اسلام آباد کې (د دسمبر ۹ مه) زمونږ ګډو موخو ته د رسیدلو لپاره یوه مهمه فرصت ده.

مونږ هوکړه وکړه ترڅو د راتلونکي کال د بروکسل ناسته زمونږ د نړیوالو همکارانو په مرسته د افغانستان د اړتیا وړ سیاسی او مالي مرستو د راټولولو لپاره ښه لاره وي. په دغه موخه د افغانستان د ملي یوالي حکومت هم پوره ژمن دي ترڅو او بدلون اصلاحات رامنځته کړي.

مونږ همدارنګه د مهاجرت د کړکیچ په اړه هم خبرې وکړې. مونږ هوکړه وکړه ترڅو د 2016 کال په پیل کې د لوړپورو چاروکو په کچه یوه ناسته په لاره واچوو او په دغه برخه کې خپل همکاری پیاوړي کړو.

اوس مهال مونږ د اروپایې ټولنې غړي هیوادونه او نور نړیوال همکارانو سره د "بروکسل" کنفرانس د ښه چمتوالي باندې تمرکز کوو. مونږ ژمن یو ترڅو خپل د خلکو په ګته د سولې او پراختیا په لاره کې خپل همکاري او شراکت پیاوړي کړو.

د لا ډېر معلومات لپاره:

د اروپایې ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بریښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

د بهرنیو چارو وزارت
د اړیکو عمومی مسوول او ویاند
شکیب مستغنی
ټلیفوني شمېره: 93777000099+
بریښنالیک: mostaghnishekib@yahoo.co.uk